ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



# د پروفيسرمحمد نواز طائر د هائيکو فولکلوري مطالعه
# FOLKLORE STUDY OF MUHAMMAD NAWAZ TAIR'S HAIKU

**Dr. Farkhanda**
Pashto Lecturer, Department of Pakistani Languages, NUML, Islamabad.
Email: farkhanda@numal.edu.pk
**Mr. Rizwanullah Khan**
Pashto Lecturer, Department of Pakistani Languages, NUML, Islamabad.
Email: rizwanullah.khan@numal.edu.pk

## Abstract
*This study explores the folklore elements in the Haiku poetry of Muhammad Nawaz Tair, a prominent Pashto poet. The research examines how Tair's Haiku reflects the cultural heritage, traditions, and values of the Pashtun community. Through a qualitative analysis of selected Haiku, this study identifies and interprets the folklore motifs, imagery, and themes that are embedded in his poetry. The findings suggest that Tair's Haiku serves as a repository of Pashto folklore, preserving the community's cultural identity and shared experiences. This study highlights the significance of Haiku as a medium for folkloric expression and its potential to promote cross-cultural understanding.*

**Key words:** Pashto Haiku, Folklore, Muhammad Nawaz Tair, Cultural Identity, Pashtun Community

**د هر يو ادب بنيادي او ابتدائي اصناف اولسي وي، خو د وخت د تېرېدو سره په کښې نوي نوي اصناف ځاے پېدا کوي او شهرت مومي ۔ هائيکو چې په روان وخت کښې د پښتو د منظوم ادب يو ياد او زړۀ پورې صنف دے په اصل کښې د جاپان د ادب نه راغلے دے ۔ خو د خپل خوږلت او انفراديت له کبله ئې په پښتو ادب کښې شناخت حاصل کړے دے ۔ هائيکو په هيئتي توګه په درېو مصرعو مشتمل وي ۔ د هائيکو لفظي معنیٰ ډاکټر اسماعيل ګوهر څۀ داسې کړې ده:**

**" هائيکو معنیٰ ده،" مختصر کلام"[1] ۔**

د هر يو لفظ دوه معنې وي چې يو ته لفظي معنیٰ او بل ته اصطلاحي معنیٰ وئيلے شي ۔ کله کله لفظونه په لغوي او اصطلاحي دواړو حوالو سره يو شان معنې او مفاهيم ورکوي خو کله کله په کښې اختلاف هم راځي ۔ په اصطلاحي توګه د هائيکو نه مراد هغۀ شعري صنف دے چې درې مصرعې لري او يوه موضوع په کښې بيانېږي ۔ په ابتداء کښې به د هائيکو د مصرعو چپې(۵،۷،۵) په حساب سره وۀ خو په روان وخت کښې په کښې شاعرانو نوې نوې تجربې هم کړې دي ۔ د هائيکو صنف په اړه د نېټ يوه پاڼه داسې معلومات راکوي چې:

> "A haiku is a specific type of Japanese poem, which has 17 syllables divided into three lines of 5,7 and 5 syllables - Haikus or haiku are typically written on the subject of nature - The word haiku (pronounced hahy-koo) is derived from Japanese word hokku meaning "starting verse"[2]
>
> **ترجمه: هائيکو د جاپان د نظم مخصوص قسم دے،چې د وولسو(۱۷) چپو وي او په درېو درېو مصرعو کښې تقسيم وي ۔ د ۵ ۔ ۷ ۔ ۵چپې وي ۔ دا عموماً د فطرت دپاره ليکلے کيږي ۔ لفظ هائيکو تلفظ "هائي کوو" دے ۔ دا د جاپانی ژبې د لفظ هوکو نه ماخوذ او معنیٰ يې شروعاتي بند دے ۔**

**د هائيکو صنف په جاپان کښې هم درې مصرې لري او دغه شان په اردو او پښتو ژبه کښې ئې هم دغه صورتحال دے ۔ البته په هيئتي توګه په دغه درې واړو ادبياتو کښې هائيکو مختلف ډولونه لري ۔**

د نورو اصنافو نه علاوه پروفېسر محمد نواز طائر د هائيکو هم ښۀ شاعر وۀ ۔ په ملاکنډ ضلع کښې د هائيکو وړومبے کتاب هم د دوي چاپ شوے دے چې نوم ئې"خوبونه په خپل کلي کښې" دے ۔ دغه کتاب ټولې هائيکو لري او په کال ۲۰۰۱ء کښې چاپ شوے دے ۔ سريزه پرې ډاکټر راج ولي شاه خټک ليکلې ده ۔ د دې نه علاوه د دوي په ځينو نورو کتابونو کښې هم خورې ورې هائيکو شتون لري ۔

د هائيکو صنف کمال دا دے چې دا په درېو جملو کښې پوره مضمون او بيان راټولوي، هر قسم موضوع په کښې بيانېدے شي البته په پښتو ادب کښې د هائيکو تر ټولو لويه موضوع طنز ومزاح ده ۔ خو د دې نه علاوه په کښې

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



شاعرانو نور موضوعات بیان کړي دي ـ د پروفېسر محمد نواز طائر د هائیکو سره د مینې ترون هم په دې وجه پاتې شوے دے چې په دې صنف کښې په اسانه توګه د شاعر خبره راټوله کړے شي ـ لکه چې په خپله ئې اقرار کوي:

"څۀ عجیبه شان د اظهار ذریعه ده
بس د مطلب لنډه خبره کوي
په دې مې خوښې جاپانۍ سندرې"[3]

د نواز طائر د هائیکو ژبه روانه، اسانه او ډېره عامیانه ده ـ د دې نه علاوه دوي په خپلو هائیکو کښې د ژوند هر ډول موضوعات بیان کړي دي، لکه مذهبي مباحث، روماني افکار، طنز ومزاح وغېره ـ خو د دې نه علاوه په کښې د فولکلور په اړه هم ډېر څۀ موجود دي ـ

د دوي په هائیکو کښې د مادي تقریباً درې واړه قسمونه موجود دي، او ډېر په ښکلي توګه ئې بیان کړي دي ـ خو د نورو قسمونو په نسبت ئې په هائیکو کښې د مادي فولکلور برخه لږه زیاته ده ـ

لباس د مادي فولکلور یو ښکاره اړخ دے چې وړاندې پرې هم بحث شوے دے او د دوي په نورو اصنافو کښې ئې هم تذکره زمونږ په وړاندې ده ـ په خپلو هائیکو کښې ئې هم د لباس یادونه مخې ته راوړې ده ـ لکه د مثال په توګه دا هائیکو چې د لوپټې ذکر په کښې شوے دے:

خور شوے زړۀ چې پرې راټول چې زما
جانه په ما دومره احسان خو اوکه
دا لوپټه خپله په ما خوره که[4]

یو بل ځاے وائي:

"نور ته په ما باور کوې او کنه
ستا لوپټه مې دې کفن شي ګلې
که په بل چا به مې خور زړۀ ټولېږي"[5]

دا هائیکو ئې هم د لوپټې ذکر لري چې:

که ستا د ښار نه بلها لرې لاړم
وګرځېدمه په ناشنا ملکونو
هر ځاے زما ستا لوپټه یادېدۀ"[6]

د سالو ذکر ئې هم کړے دے چې:

هغه د سور سالو سرداره جینۍ
چې به ئې ماته اشارې کولې
هغه به خداے خبر چې چا کره وي"[7]

لوپټه د زنانۀ د لباس اهم توکے دے ـ په پښتنه ټولنه کښې خو لوپټه ډېر اهمیت لري ـ پښتانۀ چونکې په زیاتو روایاتو او رسمونو رواجونو کښې د اسلام پلویان دي او په اسلام کښې په حیاء او پرده ډېر زور ورکړے شوے دے ـ لوپټه د زنانۀ د عزت او عصمت ذریعه ده ـ خصوصاً په پښتنه ټولنه کښې هره یوه پېغله او مشرانې زنانه لوپټې په سروي ـ

زمونږه په ژوند کښې مختلف قسم مادي څیزونه دي چې په خپل ځاے خپل ارزښت او ضرورت لري ـ د کور د استعمال لوښي هم د مادي فولکلور حصه ده ـ د پروفېسر محمد نواز طائر دا لاندې هائیکو چې د منګي ذکر په کښې شوے دے:

د کلي پېغلو به منګي ترې وړلے
وائي د ډنډ اوبۀ خوږې به وي خو
کیرړه میراته که په دې کښې نۀ وے"[8]

زنانه سینګار کوي او سینګار خوښوي، دوي د وخت مطابق د سینګار دپاره مختلف قسمه هڅې کوي، که یو طرف ته په لباس کښې د شوخو رنګونو انتخاب کول د دوي مزاج دے نو ورسره د کالو پټرو اچول هم دوي خپل زېب او زینت ګڼي ـ د کالو پټرو استعمال دوي د پخوا نه کوي او د دغه کالو پټرو په مرسته دوي ځان ښکلے کوي ـ په روان وخت کښې چې کوم کالي پټري جینکۍ استعمالوي نو دا د ابتداء په نسبت ډېر بدل شوي دي ـ ځینې روایتي کالي

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



پټري خو داسې هم دي چې په روان وخت کښې ورسره جینکۍ هیڅ اشنائي نهٔ لري ـ کالي پټري هم د مادي فولکلور اهمه حصه ده ـ او د ټولنې د یو ضرورت هم دے ـ

پښتنو جونو چې د کوم کالو استعمال کړے دے په دغو کښې "پېکړې" هم شامل دي ـ پېکړې د جینکو د پښو کالے دے چې په خاصو موقعو ئې د شنا د اواز دپاره اچوي ـ د پېکړو ذکر په پښتو ټپه کښې څهٔ داسې شوے دے:

"پاس په ګودر د جونو جنګ دے
د ملک لور په پېکړو یشتل کوینه"[9]

نواز طائر په خپله یوه هائیکو کښې د پېکړو ذکر کړے دے، چې څهٔ داسې ده:

"پرون دلې د پېکړو شنا وه
سبا به بیا په دغه لاره راځي
ځکه مې دا ځاے کښې سنګر نیولے"[10]

د جینکو په کالو کښې بنګړي هم راځي، بنګړي د جینکو د مړوند کالے وي ـ د بنګړو دستور د پخوا نه راروان دے ـ بنګړي د مختلفو قسمونو وي لکه د شیشې بنګړي، د وسپنې بنګړي وغېره ـ کوم خلق چې معاشي طور سره ښهٔ وي نو هغوي د زرو بنګړي هم په لاسوي ـ نواز طائر په خپلو دې هائیکو کښې په مختلفو مناسبتونو سره د بنګړو ذکر کړے دے چې:

"ماته ئې وئیل صنف نازک یمه زهٔ
زما مړوند د بنګړو بوج نهٔ زغمي
ځکه خو هر وختې بنګړې ماتووم"[11]

"پرون به دې د لاس بنګړي ماتول
نن چې رالویه شوه زړګي ماتوي
سبا به خداے خبر چې څهٔ ماتوي"[12]

فولکلور د ژوند د هر یو اړخ څهٔ نهٔ څهٔ برخه لري او په زرګونو کاله وروستو د یو قوم د تاریخ، کلتور او روایاتو نه پرده پورته کوي ـ د یو قوم په شناخت کښې مرسته کوي او د یو قوم د تاریخ او ارتقاء ادراک ترې کېږي ـ پښتنې خاورې وخت په وخت ځینې روماني کردارونه هم زېږولي دي چې په خپل ځاے د اهمیت وړ دي ـ دغه روماني کردارونه زمونږه د کلتور او ثقافت اهمه برخه ده ـ نواز طائر په خپله هائیکو کښې دې لور ته هم پام ګرځولے دے ـ لکه چې د ادم خان او درخانۍ ذکر کوي:

بازدرې هغهٔ دي هم رود هغه دے
نهٔ ادم خان نهٔ درخانۍ لیدے شي
ځکه نغمې د رباب ژوند نهٔ لري"[13]

دا هائیکو ئې هم د دې تسلسل کړۍ ده چې:

"د ادم خان د درخانۍ مینه کښې
د زیروبم څومره نغمې پرتې دي
دا د سپېځلي موسیقار قیصه ده"[14]

"رباب له ټنګ ورکه د ژوند په مضراب
چې شي سرتوره درخانۍ په ګډا
ادمه ستا د زلمیتوب ورځې دي"[15]

"بهر چې زهٔ د شپې څملم کله
ماشې رباب راته په غوږ کښې وهي
وېمه حجرې ته ادم خان راغلے"[16]

د ادم خان او درخانۍ نه علاوه دوي د ځینو نورو روماني کردارونو ذکر کړے دے چې د یادؤنې سره ئې د بنده په ذهن د هغو پوره روماني داستان راتازه کېږي ـ په دغو روماني کردارونو کښې د یوسف خان او شېربانو نومونه هم د دوي د هائیکو حصه ده ـ د دوي د مینې داستان په پښتنو کښې ډېر زیات شهرت لري ـ علي حېدر جوشي د یوسف خان پېژندګلو په خپله لیکلې مثنوي کښې داسې کړې ده:

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



"قیصه واؤره عیجبه د ګل په رنګ
چې دې لرې کړم د خوږ زړګي نه زنګ
د اکبر په زمانه کښې زما لاله
یو عاشق وۀ خبرووم دې له احواله
کور ئې وۀ د ترلاندۍ کلي نه بره
اوس چې ښکاري دغه ځوان د غرۀ د سره
درته وایم چې یکا یوسف ئې نوم دے
د پلار نوم ئې شاد محمد راته معلوم دے "[17]

نواز طائر د یوسف خان او شېربانو ذکر په دې هائیکو کښې راوړے دے چې:

"د مرګ په خله کښې یوسف خانه خانه
د شېربانو بي بي د زړۀ دپاره
د نمر د څرېکې انتظار به کوې"[18]

په مشهورو روماني کردارونو کښې د فتح خان او رابیا کردار هم ډېر ښکاره دے، دغه روماني کردارونو په ذریعه یو بل یاد روماني داستان زمونږ په وړاندې دے ـ د فتح خان او رابیا ذکر ئې د دې هائیکو نه په ډاګه دے چې:

"برېښې ټول دي شمس الدین وژلي
د فتح خان ګرنګه ځه ورځه پرې
ده رابیاګۍ د بام په سر ولاړه"[19]

د ګودر په حقله په دې باب کښې وړاندې بحث شوے دے د پښتني کلتور یاد قدر پاتې شوے دے ـ ګودر د پښتنو د ژوند سره د پخوا نه تړلے راروان دے ـ نواز طائر ئې په دې هائیکو کښې څۀ په ښکلي انداز سره ذکر کړے دے چې:

"نۀ سور سالو نۀ شین خالۍ لیدے شي
زما په برخه دے عبث انتظار
په ګودر ناست یمه ټیکري شمارمه"[20]

نورو هائیکو کښې وائي:

"دا چې ده ناسته د ګودر په غاړه
په سرو منګلو چې منګي ډکوي
د ګودر غاړه پرې ښائسته لیدے شي"[21]

"وئیل ئې وخت خو د ډوډۍ نزدې دے
ولې ګودر کښې ده کشتۍ تیاره
خوښه دې خپله ایسارېږې که ځې"[22]

د پښتني ژوند ا ابتدائي شکل د مطالعې دپاره د فولکلوري ادب  کتنه ډېره ښۀ لاره ده، ځکه چې فولکلوري ادب په دې حواله ډېر غني دے ـ د پښتنو د ټولنیز ژوند د هر رقم رسمونو او رواجونو تذکره په کښې شوې ده ـ که د پښتنو د دود دستور په لور ځېر شو نو حجره هم د دوي د ژوند سره لازم ملزوم ده ـ  پښتانۀ چونکې مېلمه پالونکي خلق دي ، په دې وجه دوي په خپلو کورونو کښې د مېلمه دپاره یو حصه خامخا خاص کوي چې د حجرې په نوم یادېږي ـ دغه د حجرې روایت ډېر زوړ دے، حجره مشترکه هم کېدے شي او جدا هم ـ دغه حجره د پښتنو د مسئلو کشالو د حل کولو، د یو بل سره د بحث مباحثې کولو او صلاح مشورې دپاره استعمالېږي ـ په حجره کښې نارینه ناسته کوي ـ د شپې ناوخته اکثر په دغه حجرو کښې د رباب او منګي موسیقي هم وي ـ په روان وخت کښې په دې دستور کښې لږ توپیر راغلے دے او د حجرې هغه زوړ دستور پاتې نۀ دے، ولې بیا هم په پښتون ژوند کښې ځانګړے مقام لري ـ نواز طائر په خپله یوه هائیکو کښې د حجرې ذکر څۀ داسې کړے دے چې :

چې به په کښې د ورځې لوبې کېدې
د شپې به درز وۀ د منګي د رباب

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



هغۀ حجرې هغۀ دېرې چرته دي"[23]

د پورته هائیکو نه هم دا خبره واضحه ده چې پخوا به په دغه حجرو کښې د د رباب او منګي په مدد د موسيقۍ نشستونه کېدل چې د نوي دور تقاضو دغه سپېڅلي روايات په خپلو ګردونو بدرنګه او پيکه کړل ـ

لکه چې وړاندې ووئيلے شو چې د پروفېسر محمد نواز طائر په هائيکو کښې فولکلور همه قسمونه موجود دي ـ دغه شان دوي د نورو اړخونو نه علاوه په خپلو هائيکو کښې ځاے په ځاے د توهماتو مباحث مخې ته راوړي چې د فولکلور اهم اړخ دے ـ د مثال دپاره ئې دغه لاندې هائيکو چې په کښې د پېريانو ذکر شوے دے، وائي:

"پاتې ژوندون به په بېديا تېرووم
بيا به د کلي په خوا نۀ ورځمه
زمونږ په کلي کښې پېريان دېره دي"[24]

که هر څو د دوي هائيکو د فولکلور د نورو قسمونو برخه لري خو د مادي فولکلور په حقله ئې هائيکو ډېره غني ده ـ په دې ضمن کښې ئې دا يو څو هائيکو د لوستو وړ دي چې:

د ګاونډي اوره بيزو چټ کړي
خلۀ سپېرۀ کړې ئې د خوار ورغومي
حلالوي ئې د قصاب په چاړه"[25]

"نن د چرسيانو په دېرۀ تېرېدم
دم ئې راښکو ښۀ په جار ئې وئيل
چاله ئې لور مونږ له تنور پخوي"[26]

" اے چې دا سر ئې په نغمو سندرو
د حجرې خلق ستا نه څۀ خبر دي
چې ستا په زړۀ باندې به څۀ تېرېږي"[27]

ګينګړے ټنګېږي چې غوائے تاوېږي
تيلي وئيل دے تېرباسل نۀ کوي
سوچه غوائے دے څۀ وکيل خو نۀ دے"[28]

متل د اولسي ادب يو ښۀ صنف دے، د دوي په هائيکو د متل اثرات هم شته، د پښتو ژبې يو متل دے چې "څۀ کرې هغۀ به رېبې" دغه متل دوي په خپله هائيکو کښې راوړے دے، وائي:

چې څۀ کوې څۀ نتېجه به مومې
خو چې څۀ نۀ کوې نو څۀ به مومې
ګټه بيلات خو په کولو کېږي"[29]

د مادي فولکلور په حقله ئې دا لاندې هائيکو هم د ذکر وړ دي چې:

"د بل په لاس کښې ئې مولۍ وليدۀ
سترګې ئې برندې کړې دا ماله راکړه
ګنې نو سر دې په ټوپک خرمه"[30]

"تا وې دې بېره کښې به ټال اچوو
په کښې به زانګو دغه پاتې عمر
نن مې په تبر هغه بېره پرې کړه"[31]

"لنګه شلېدلې ده بازو مات شوے
د موزيګې شلېدلې کټ ته ګوره
داسې نېستۍ کښې د مستۍ خبرې"[32]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



په مختلفو قامونو کښې مختلف قسم توهمات او خبرې اترې د پخوا نه راروانې وي، يوه خبره دا هم د پخوا نه کېږي چې د نورو بوټو نه علاوه په انځر کښې هم ګل وي ـ خو دغه ګل هر څوک نۀ شي ليدے او مخصوص خلق ئې وينې چې کوم د څۀ کرامت خاوند وي يا په مذهبي توګه د خدائے پاک سره کلک ربط لري ـ په پښتنه ټولنه کښې چې څوک زر زر نۀ شي ليدے نو وئيلے شي چې سم د انځر ګل درنه جوړ شوے دے ـ نواز طائر په خپله يوه هائيکو کښې دې لور ته داسې اشاره کړې ده چې:

لېوالۀ زړۀ مې تلوسو نيولے
عمر په شا شو خو په لاس نۀ راغے
زۀ د اينځر د ګل په طمع يمه"[33]

د دوي په نورو هائيکو هم د متلونو اثرات موجود دي، لکه دا هائيکو چې ياد متل لري:

"که څۀ هم ګرانه کشاله وړاندې وي
تکل د هرې کشالې کنجي ده
څوک چې تکل نۀ کړي منزل نۀ مومي"[34]

د پښتو ژبې يو متل داسې هم دے چې "ګټه په ټنډه ده په منډه نۀ ده" هم دغه متل دوي څۀ داسې راوړے دے چې:

"پروا ئې نۀ وي که هر څۀ پېښېږي
د ارادې د خاوندانو نه ځار
ګټه په ټنده وي په منډه نۀ وي"[35]

يو بل متل "ته کوز شۀ ټټو ماله راکړه" چې په خاص او عام کښې يو شان مشهور دے دوي په خپله يوه هائيکو کښې داسې راوړے دے چې:

"وائي چې ته کوز شۀ ټټو ماله راکړه
که نۀ ئې نو اوس به دې سر لاندې پروت وي
زمونږ په کلي کښې دستور دغه دے"[36]

زيارتونو او باباګانو له تګ د پښتنو د ژوند يو دستور پاتې شوے دے، پښتانۀ به زيارتونو او باباګانو له په مختلفو وختونو سره تلل او په باباګانو او زيارتونو به ئې منښتې هم کولې ـ که وکتے شي نو د پښتنو د دې دستور اندازه د دې نه هم لګي چې تقريباً د دوي په هره يوه علاقه او سيمه کښې يو بابا او يا يو زيارت ارو مرو وي ـ دا هم د فولکلور حصه ده ـ پروفېسر محمد نواز طائر په خپلو هائيکو کښې دې لور ته هم اشارې کړې دي، لکه دا نمونې اوګورئ چې:

"خورې راځه زما سره لاړه شه
چې په زيارت باندې ئې شال اوغوړو
ما د دستې بابا منښته کړې"[37]

زما لندې سوالونه په زړۀ
د الله در ته که زارې مې وکړې
په پير بابا به ورغوړېږمه زۀ"[38]

"د حضرت جي بابا زيارت دې ياد شي
چې به وو ناست د شنو ګټانو په سر
مونږ به چپو د اباسين ته کتل"[39]

پخوا به د فال کتلو دستور هم ډېر عام وۀ، د وخت سره ئې هغۀ خاص اهميت اوس نۀ دے پاتې شوے ـ دا هم د پښتنو د کلتور او فولکلور بنيادي اړخ دے ـ نواز طائر ئې څۀ داسې ذکر کړے دے چې:

"ما به چې کله هم ستا لاس کتلو
د دې په کرښو کښې مې دا لټول

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



چـــي کـــومـــه کـــربنـــه زمـــا زړۀ تـــه تـــلـــي"[40]

د پورته ټول بحث نه دا خبره واضحه شوه چې د نواز طائر په هائیکو کښې د فولکلور پوره برخه موجود ده ـ دوي چې څنګه په خپلو نورو منظومو اصنافو کښې د فولکلور مختلفو اړخونو په اړه بحث کړے دے هم دغه شان ئې په خپلو هائیکو کښې د فولکلور په اړه مختلف افکار مخې ته راوړي دي ـ د دوي په هائیکو کښې د فولکلور مادي، غېر مادي او نیم مادي درې واړه قسمونه موجود دي، چې پورته پرې بحث شوے دے ـ

حوالې

---

[1] اسماعیل ګوهر، ما هائیکو کښې شاعري کړې ده ، پښتو اکېډمي هزراه، اکتوبر ۲۰۱۹ء، مخ ۹
*https://litraryterms.net/haiku/ dated 23, March, 2020. 2:34 pm* [2]
[3] طائر، محمد نواز ، پروفېسر ، خوبونه په خپل کلي کښې، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۲۰۰۱ء، مخ ۲۱
[4] هم دغه اثر، مخ ۲۱
[5] هم دغه اثر، مخ ۴۵
[6] هم دغه اثر، مخ ۵۶
[7] هم دغه اثر، مخ ۴۷
[8] هم دغه اثر، مخ ۲۱
[9] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې (دوېم جلد)، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۱۹۹۴ء، مخ ۴۳۵
[10] طائر، محمد نواز ، پروفېسر ، خوبونه په خپل کلي کښې، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۲۰۰۱ء، مخ ۳۷
[11] هم دغه اثر، مخ ۴۸
[12] هم دغه اثر، مخ ۴۸
[13] هم دغه اثر، مخ ۲۳
[14] هم دغه اثر، مخ ۸۲
[15] هم دغه اثر، مخ ۸۲
[16] هم دغه اثر، مخ ۹۵
[17] جوشي، علي حېدر، قیصه د یوسف خان شېربانو، ارټ پوائنټ پېښور، ۲۰۲۲ء،مخ ۸
[18] طائر، محمد نواز ، پروفېسر ، خوبونه په خپل کلي کښې، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۲۰۰۱ء، مخ ۹۰
[19] هم دغه اثر، مخ ۹۱
[20] هم دغه اثر، مخ ۲۶
[21] هم دغه اثر، مخ ۸۱
[22] هم دغه اثر، مخ ۸۴
[23] هم دغه اثر، مخ ۳۰
[24] هم دغه اثر، مخ ۳۳
[25] هم دغه اثر، مخ ۳۸
[26] هم دغه اثر، مخ ۴۱
[27] هم دغه اثر، مخ ۴۰
[28] هم دغه اثر، مخ ۴۲
[29] هم دغه اثر، مخ ۴۳
[30] هم دغه اثر، مخ ۴۳
[31] هم دغه اثر، مخ ۴۶
[32] هم دغه اثر، مخ ۸۳
[33] هم دغه اثر، مخ ۴۳
[34] هم دغه اثر، مخ ۴۴
[35] هم دغه اثر، مخ ۴۴
[36] هم دغه اثر، مخ ۵۱
[37] هم دغه اثر، مخ ۱۰۸
[38] هم دغه اثر، مخ ۴۶
[39] هم دغه اثر، مخ ۶۴
[40] هم دغه اثر، مخ ۶۶